Download from:aghalibrary.cm




بسم الله الرحمن الرحيم

# د شریعت په رڼا کې د صلحې ۱۲ مسائل

لیکنه: عبدالله فایق

الحمد لله رب العالمین حمداً یوافي نعمه ویکافئ مزیده، والصلاة والسلام علی رسول الرحمة ومعلم الأمة محمد بن عبد الله، وعلی آله وصحبه والتابعین لهم بإحسان إلی یوم الدین، وبعد:

نن سبا د صلحې خبرې ډېرې تودې رواني دي او صلحه یا سوله د مسلمانانو یو ډېر اشد ضرورت دی. دا چې په هر بانډار او مجلس کې عوام او خواص ورباندې بحث کوي نو لازمه دا ده چې د اسلام له نظره د صلحې یو څو مشهور مسائل د عامو مسلمانانو سره شریک کړل سي ترڅو پدې اړه د خپله ځانه د فتوا ورکولو یا په ناخبرۍ کې د شرعي مسائلو د غندلو او انکار څخه ځان وساتي. صلحه اصلاً د اسلام پر شرایطو جایز ده.

لاندې مسائل چې د قرانکریم او نبوي احادیثو څخه اخذ سوي دي، د اسلامي فقهي مشهورو کتابونو رانقل کړي دي لکه "موسوعة الفقهیة" کوم چې د نړۍ د مشهورو او معتبرو علماوو لخوا (۴۵ کاله پخوا) په ګډه لیکل سوې ده، د څلورو مذاهبو تحقیقات یې راجمع کړي دي او ۴۵ ټوکه ده.
همدارنګه د "فقه الاسلامي وادلته" کتاب څخه هم اخذ سوی دی کوم چې د څلورو مذاهبو مسائل یې بیان کړي دي. ترڅنګ یې د فقهي اصلي مراجعو ته هم حوالې ورکول سوي دي:

**۱ مسئله:** په اسلامي فقه کي د صلحي نومونه دا دي (صلحه، هدنه، موادعه، مصالحه، مسالمه، معاهده).
لغوي معنی: هدنه په لغت کي سکون، ارامی او صلحي ته وايي.

اصطلاحي معنی: د حنفي فقهي علماء وايي: هي الصلح على ترك القتال مدة بمال أو بغير مال إذا رأى الإمام مصلحة في ذلك (الاختيار، فتاوى هنديه) يعني صلحه د يو مودې لپاره د جګړي درولو ته وايي، که دا صلحه په مال اخيستلو سره کوي او که يې بېله مال اخيستلو کوي چي کله د وخت امير پدې کي مصلحت ويني.

يادونه: په شريعت کي امان او عقد الذمة دوه نور معاهدات دي چي په دغو کي هم کافر لره پخپلو شرايطو سره پوره امان ورکول کيږي.

**ضمني معلومات:**

**د صلحي ګټي او ثمرات:** نن ورځ اسلامي امت صلحي ته ډير زيات ضرورت لري ځکه د نيکمرغه ژوند مدار پر صلحه ولاړ دی. يو څو فردي او ټوليزي ګټي يې په لاندي ډول دي:

- صلحه کېدلای سي فتحه وي: جهاد پر مومنانو ددې لپاره فرض کړل سوی دی څو د اسلام حاکميت تامين سي، مسلمانان په ارامه فضاء کي د اسلام احکام عملي کړي او عبادت په ښه شان سره ترسره کړي او د ظلم، فتنو او فسادو مخه ونيول سي نو دا اهداف لکه څنګه چي په جهاد حاصليږي په صلحه هم حاصلېدلای سي (صلحه معنوي جهاد دی) ځکه نو د حديبيې صلحه الله تعالی فتحه بللې ده: ( إِنَّا فَتَحْنَا لَكَ فَتْحًا مُبِينًا) الاية. علماء ليکي چي په دغه صلحه سره ډير ستره فتحه ترلاسه سوه او امام شعبي رحمه الله فرمايلي دي چي په دغه صلحه سره نبي کريم ﷺ هغه څه ترلاسه کړل چي په غزا سره نه وه ترلاسه سوي.
- په صلحه سره د دين او ايمان ساتنه کيږي.
- صلحه اسلامي امت د اختلاف، افتراق او ډل بازۍ څخه ساتي. د اختلاف په وخت کي هر دښمن خوشحاله کيږي، مداخله کوي او ملت ضعيفه کيږي.
- په صلحه سره د مسلمانانو وينه، مال ، ناموس او عزت ساتل کيږي.
- صلحه پر فرد، ټولني او کورنۍ ډير مثبت تاثير لري، د مسلمان په کور، کلي او ښار کي خپل منځي جوړ او محبت راځي.
- په صلحه کولو کي الله عزوجل ډير ستر اجرونه او ثوابونه ايښي دي.

**۲ مسئله:** د صلحي مشروعيت او جواز: د اسلام د فقهاوو پر دې اتفاق دی چي صلحه جايز ده او جواز يې په قران، حديثو او اجماع باندي ثابت دی.

- د قران څخه جواز: وَإِن جَنَحُواْ لِلسَّلْمِ فَاجْنَحْ لَهَا وَتَوَكَّلْ عَلَى اللّهِ إِنَّهُ هُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ (سورة الانفال:۶۱) همدارنګه (سورة التوبة: ۱-۷)

- د سنتو څخه جواز: رسول الله صلی الله علیه وسلم د مکې د قریشو سره تر لس کالو پوري د صلحي تړون وکړی.

- د امت اجماع: د ټول امت پردې اجماع ده چي د کفارو سره په مجموع کي صلحه جایز ده، خو واجب نه ده مګر په هغه صورت کي د ضرورت لکبله صلحه واجب ګرځي کله چي په صلحه نه کولو سره مسلمانانو ته داسي ضرر پیښیږي چي د هغه تدارک نه کیږي. (البحر الرائق، البدائع/موسوعة الفقهیة، المادة: الهدنة)

**۳ مسئله: د صلحي د صحت شرایط:** څلور دي:

**اول شرط:** د جمهورو فقهاوو (مالکیه، شوافع او حنابله وو) په آند د صلحه معاهده او تړون یوازي د مسلمانانو امیر کولای سي او یا د هغه نائب یې کولای سي، بیله دوی دوو څخه د بل چا لخوا تړون نه صحیح کیږي. او د حنفي فقهي فقهاء وایي چي د صلحي معاهده د مسلمانانو امام (امیر) او یا د هغه نائب هم کولایسي، همدارنګه د امام اجازه شرط نه ده نو که د مسلمانانو یوه ډله دغه د صلحي معاهده وکړي هم جواز لري. خو بیا هم مسئله د مسلمانانو د امیر فیصلي ته راجع کیږي هغه پدې ډول که چیري امام د صلحي د تعین سوي مودې تر مخه پدې تړون خبر سو نو بیا امام د صلحي د همدې تړون مصلحت ته ګوري، د مصلحت او نه مصلحت پر بناء د قبول یا تردید فیصله کوي. که یې دغه صلحه د مصلحت لکبله رد کړل نو بیا به د کفارو سره قتال شروع کیږي. (بدائع الصنائع والبحر)

**دوهم شرط:** پدې صلحه کي به د مسلمانانو مصلحت وي. مصلحت دا دی چي پدې کي به د مسلمانانو لپاره شرعي مقاصد پوره کیږي. پدې ډول چي یا مسلمانان کمزوري وي او دښمن قوي وي او یا مسلمانان قوي وي خو د نورو وجوهاتو له مخي په صلحه کي مصلحت وي لکه د کفارو اسلام ته جلبېدل، یا د جزیې حاصلولو امید ، یا دوی د یو بل کفري طاقت په ماتولو کي مرسته کوي. (بدائع، فتح القدیر، بحر الرائق، المغني...)

**دریم شرط:** د صلحي د مودې تعین: پدې کي د فقهاوو اختلاف دی، شوافع او حنابله وایي چي د صلحي لپاره به موده تعین کوي. احناف او مالکي مذهب وایي چي که موده ټاکي هم صحیح دی او د مودې لپاره د خاص وخت تعین هم شرط نه دی (مالکیه وایي چي واجب حد نلري)، د وخت امام چي د خپل اجتهاد له مخي د مسلمانانو د مصلحت لپاره څومره وخت مناسب او ګټمن بولي جواز لري. (تبیین الحقائق، بحر، فتح القدیر/موسوعة الفقهیة)

یعني د وخت د امام واجتهاد ته خبره راجع ده چي د اړتیا له مخي څومره موده مناسبه بولي، لکه څنګه چي نبي علیه الصلاة والسلام د مشرکانو سره (۱۰کاله) د صلحي تړون کړی وو، د مسلمانانو مصلحت ته کتل کیږي، نو تر دې زیات یا کم وخت هم کېدلای سي. (موسوعة الفقهیة /فقه الاسلامي وادلته)

**ځلرم شرط:** په صلحه کي به فاسد شرط نه وي: امام یا امیر لره دا جایز نه ده چي په صلحه کي هغه شرط وتړي چي شریعت فاسد بللی وي. مثلاً: اسلامي هیوادونه به دوی ته خراج ورکوي، یا به مال ورکوي، حرم ته به داخلیږي، یا به په حجاز کي هستوګن کیږي، یا به خپل بندیان د دوی څخه نه اخلو، یا مسلمان یا مسلمانه ښځه کفارو ته سپارل، او داسي نور... که امام دا فاسد شرایط وټاکل، دا شرایط باطل کیږي او امیر به یې نقض کوي.
دلیل: (سورة محمد: ایت ۳۵، سورة الممتحنة: ۱۰-۱۱) خو صلحه نه فاسیدیږي. (الفتاوی الهندیة/موسوعة الفقهیة)

یادونه: ځیني خاص منع سوي شروط خاص موارد هم لري چي فقهي کتابونو راخیستي دي.

**۴ مسئله: د صلحي صفت:** جمهور فقهاء دا تړون (لازم عقد) بولي، کله چي د شریعت د اصولو مطابق صلحه وسي نو بیا به مسلمانان پدې تړون وفاء کوي، (سورة المائده:۱) (سورة التوبة: ۴) ترڅو چي د کفارو لخوا غدر نه وي سوی. کله چي صلحه کوونکی امیر وفات یا معزول سي، وروستنی حاکم دغه صلحه نه سي ماتولای. (فقه الاسلامي وادلته)

**۵ مسئله: پر صلحه باندي پیسي او مال اخیستل:**

مسلمانان په اضطراري حالت کي کولای سي صلحه د مالي عوض په بدل کي وکړي یعني کفارو ته پیسي ورکړي. همدارنګه لکه څنګه چي د صلحي په تعریف کي ذکر سوه مسلمانان کولای سي پر صلحه باندي د کفارو څخه مال یا پیسي هم واخلي ځکه صلحه په ایت شریف کي مطلق جایز سوې ده {وإن جنحوا للسلم فاجنح لها} پدې چي د صلحي څخه مقصد د شر دفع ده او دا مقصد (د شر دفع) چي په هره وسیله حاصلیږي جایز دی، پردې د فقهاوو اتفاق دی. (الدرمختار، فقه الاسلامي وادلته)

**۶ مسئله: د صلحي تړون د چا سره کیږي؟**

صلحه د اهل کتابو (یهود او نصاری) او غیر اهل کتابو سره کیږي لکه څنګه چي نبي کریم صلی الله علیه وسلم د بني قریظه د یهودو سره او د مکې د مشرکینو او نورو عربي قبایلو سره صلحه کړې وه. همدارنګه صلحه په ځینو خاصو صورتونو کي د مرتدانو سره او دا ډول د باغیانو سره کیږي خو د دوی (مرتدانو او باغیانو) څخه به مال نه اخلي. (مغنی المحتاج، فتاوی هندیه/موسوعة الفقهیة) او دا ډول د مسلمانانو سره صلحه کیږي.(فقه الاسلامي) ددې ترڅنګ د خاوند او مېرمني ترمنځ او د دوو دعوه کوونکو ترمنځ هم صلحه کیږي.

**۷ مسئله: د صلحي حکم یا آثار:** کله چي صلحه وسوه د دواړو جنګي طرفینو ترمنځ به جنګ ختمیږي، د دښمن ځان، مال، ښځي او اولادونه به په امن کیږي لکه د امان په عقد کي چي همداسي

کيږي. او د دوی له طرفه به هم مسلمانانو ته امان وي، او د دوی باطل شرايط نه منل کيږي لکه مثلاً مسلمانانې ښځې دوی ته سپارل. (فقه الاسلامي وادلته، جزء۸، کتاب الجهاد وتوابعه) د وخت پر حاکم او د هغه پر وروسته حاکمانو باندې دا واجب ده چې مقابل طرف کفار به د مسلمانانو د اذيت څخه ساتې ترڅو په کړې تړون باندې وفاء وسې، (سورة المائده: ايت۱).

**۸ مسئله:** که چيرې يوه مسلمان ددغه مقابل طرف (کفارو) يو شی تلف کړی نو پر دغه مسلمان باندې تاوان ورکول لازم دی. که چيرې دغه صلحه کوونکې (کفار) يو داسې هيواد ته ولاړ سي چې د هغه هيواد او مسلمانانو ترمنځ معاهده نه وي او مسلمانان په همدغه هيواد کې غزا کوي نو دغه صلحې کوونکې (کفار) به په آمن وي يعنې هيڅوک دغه صلحه کوونکې کفار نسي زيانمن کولای ځکه د دوی سره د صلحې تړون سوی دی او صلحه د ځای په بدلېدو نه ماتيږي. (موسوعة الفقهية)

**۹ مسئله: صلحه څه وخت ماتيږي؟**

که چيرې صلحه د خاص مودې لپاره وي نو د مودې په ختمېدو صلحه هم ختميږي او که د صلحې تړون مطلق ترسره سوی وي (عند الحنفية) نو بيا د دښمن په مجموعي خيانت سره صلحه نقض کيږي. (فقه الاسلامي وادلته/موسوعة الفقهية)

**۱۰ مسئله:** که صلحه د ټولو کفارو لخوا ماته سوه نو دا تړون نقض دی, نور دوی امان نلري او که ځينو کفارو نقض کړه او ځينو کفارو ددې نقض غندنه وکړه نو صلحه يوازې د نقض کوونکو په حق کې ماته ده. (بدائع الصنائع، البحر، المغني/موسوعة الفقهية)

**۱۱ مسئله:** کله چې صلحه په اجماعي شکل د کفارو لخوا ماته سوه نو هغه کفار چې په اسلامي هيواد يا دارالاسلام کې پاته وي، پر مسلمانانو واجب ده چې هغوی به تر خپل هيواده سالم رسوي. (وعند نبذ العهد يجب إبلاغ من بدار الإسلام من أهل الهدنة إلى مأمنه) (موسوعة الفقهية)

**۱۲ مسئله:** د يو کافر پر خلاف د بل کافر څخه کومک اخيستل:

فقهاء کرام ليکي چې عموماً مسلمانانو لره نه ښايي چې د يو کافر څخه د بل کافر پر قتال مرسته واخلي مګر په اضطراري حالت کې پروا نکوي (إلا عند الاضطرار(بدائع). قد أجاز الأكثرون من أتباع المذاهب الأربعة الاستعانة بالكافر على الكفار، إذا كان الكافر حسن الرأي بالمسلمين، أي وكانت القيادة للمسلمين) يعني د څلورو مذاهبو اکثرو علماوو دا جواز ورکړی دی چې د يوه کافر څخه د بل کافر پر خلاف مرسته واخيستل سي که چيرې دغه کافر د مسلمانانو په اړه ښه رايه ولري يعني دا چې قيادت د مسلمانانو په لاس کې وي. دليل دا دی چې نبي کريم صلى الله عليه وسلم د حنين په غزا کې د صفوان بن اميه څخه کومک اخيستی وو او د خزاعه قبيلې د مکې د فتحې په ورځ د نبي عليه السلام سره کومک کړی وو او د احد په غزا کې قزمان الظفري منافق چې يو مشرک وو د

صحابه کرامو سره جنګ ته وتلی وو (چي اصلاً د قومیت په اساس جنګیدی). (البدائع، الکتاب مع اللباب، نیل الأوطار، القسطلاني شرح البخاري/فقه الاسلامي وادلته وایضا في الردالمحتار، کتاب الجهاد، فصل في کیفیة القسمة) والله اعلم بالصواب

دا د صلحي په اړه د اسلام یو څو قوانین او بې شمیره ګټي دي، الله تعالی دي زموږ په هیواد او ټولي اسلامي نړۍ کي د خیر صلحه او ارامي راولي. د رسنیو پر تحلیلونو او د مختلفو خلګو پر مایوسه کوونکو خبرو، پیشګویي او اعتراضاتو باندي د اعتماد پر ځای باید مسلمانان د یوې مسئلې شرعي اړخ ځان ته معلوم کړي ترڅو د شریعت د اصولو څخه انکار ته ونه درېږي.

د یو متحد، خپلواک او په اسلامي نظام منور افغانستان په هیله

وصلی الله علی نبینا محمد وعلی آله وصحبه وسلم.



Download from:aghalibrary.cm